دغه رنگ موتاسي غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

دا د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لویې او فساد هڅې نه کوي. او آخرنی بریې د پرهیزگارانو پـه برخه دی. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به یې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدی سره راشي نو بدکارو ته یوازې دهـغـوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایـمـان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنـودی الله بـاشـد. سوم اینکه: برگشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناگوار باشد». (صحیح بخاري)

شهادت خلورم کال، ۳۹ مه گڼه، پرله پسې ۱۹۰ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د مرغومی ۲۷ مه د۱۴۳۴ هـ ق د ربیع الاول ۴ مه د۲۰۱۳ م د جنوری ۱۲ مه

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat@yahoo.com

په قطر کې د طالبانو لپاره پرانیستونکې دفتر به یوازې د سولې د خبرو لپاره وي

(زلمی رسول)

دا دفتر به د طالبانو لپاره کومه سیاسي نمایندگي یا سفارت نه وي او نه به ترې طالبان د پیسو راټولو او نورو اهدافو لپاره کار اخلي

کابل، رسنۍ:
افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر زلمـی رسول وایي؛ له امریکایي چارواکو سره په دې سلا شوي، چې په قطر کې به د طالبانو لـپاره پرانیستل کیدونکې دفتر یوازې د سولې د خبرو لپاره د تماس یو دفتر وي او طالبـان بـه ترې د نورو اهدافو لپاره کار نه اخلي.
نوموړي په دې اړه ازادي راډیو ته سره خبـرو کې یو وارییا د افغان حکومت ځینې شرطونـه تکرار کړل او ویې ویل، چې امریکایي لوري ورسره دا شرطونه منلي دي، د ښاغلي رسـول په وینا، په دې دفتر کې به هغه طالبـان راځي

پاتې ۳ مخ

د ولسي جرگې بحثونه بالاخره پر اخوډب بدل شو

د رنیسانو په کمیټه کې موږ پر کلني بودجې او د وزیرانو پر استیضاح منطقي بحث درلود چې د کندهار استازي محمد نعیم لالي پر ما فزیکي برید وکړ؛ زه د خلکو د استازي په توگه د دارنگه غیر اخلاقي حرکتونو پلوی نه یم - (احمد فرهاد مجیدي د هرات وکیل)

کابل، رسنۍ:
په ولسي جرگې کې د پولسو وزیرانو د استیضاح پر سر د وکیلانو ترمنـځ اختلافات د تیرو څو ورځـو راهیـسې دوام لري؛ چې بالاخره دغه اختلافات د دوی وکیلانو ترمنځ تر فزیکي شخړې ورسیدل.
په ولسي جرگې کې دهـرات استـازي احمد فرهاد مجیدي ازادي راډیـو تـه تایید کړه؛ چې د ریسانو په کمیټه کې د ده او د محمد نعیم لالي حمیدزي ترمنځ فزیکي شخړه شوې؛ خو ویې ویل، چاته په کې ټپ نه دی رسیدلی.
ښاغلي مجیدي ادعا وکړه، چې لومـړی ښاغلي حمیدزي پرې وار کړی دی:

پاتې ۳ مخ

نیروهای امریکایی به حمایت از نیروهای افغان ادامه می دهند

امریکا، رسانه ها:
سفیر افغانستان در واشنـگـتـن مـی گـویـد: اردوی ایالات متحده امریکا بعد از سپـردن مسوولیت های امنیتی به نیرو های افـغـان در بهار امسال به پشتیبانی لوژیستیکـی خـود در روستا های افغانستان ادامه خواهد داد.
حامد کرزی رییس جمهور افـغـانستـان و بارک اوباما رییس جمهور ایالات متـحـده امریکا روز جمعه در ایالات متحده امـریـکـا اعلام کردند که پروسه واگذاری مسوولیـت های امنیتی به نیرو هـای افـغـان را سـرعـت بخشیده و برای خروج نیرو های مـحـاربـوی ایالات متحده از افغانستان تا پایان سال ۲۰۱۴ آمادگی می گیرند.

بقیه در صفحه ۴

امریکا تعهد کرده که به افغانستان طیاره های بی پیلوت می دهد



طیاره بی پیلوت هیرون تی پی ایتین به بلندی (۱۲) هزار متر می تواند پرواز کند و توانایی توقف در هوا تا (۲۰) ساعت را دارد

کابل، رسانه ها:
ایالات متحده امریکا به افغانـسـتـان تـعـهـد سپرده است که شماری طـیـاره هـای بی پیلوت را برای این کشور بفرستد.
طیاره های بی پیلوت امـریـکـایـی تـوسـط ریموت کنترول پرواز داده مـی شـونـد. در سال های اخیر تعـدادی از کـشـور هـا بـه

بقیه در صفحه ۳

مړه یې مه بولئ ژوندي دي

شهید ځارنوال عبدالرؤف (حجت)

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

دریم مخ

د اولادونو سالمه تربیه

مولوی عطاء الله لودین

وزیر مالیه: هنوز هم بر عملی شدن تعهدات امریکا شک داریم

کابل، پژواک:
وزرای مالیه و دفاع، از تعهدات اخیر امریکا مبنی بر کمک به افغانستان ابراز خرسـنـدی نموده؛ اما می گویند که هنوزهم بـرعـمـلـی شدن این تعهدات شک دارند.
حضرت عمر زاخیلوال وزیر مالیه درنشسـت خبری مشترک با وزرای خـارجـه ودفـاع در کابل، دیروز گفت که درسفر اخیر هیئت

بقیه در صفحه ۴

وسله والو مخالفینو ته نور د جگړې د دوام لپاره بهانه نه ده پاتې

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د سولې د عالي شورا مسوولیـن وایي؛ امریکا ته د افغان پلاوي په وروستـي سفر کې هغه موارد له منځـه ولاړل؛ چې وسله والو مخالفینو په افـغـانـسـتـان کې د جگړې د دوام لپاره بهانه کړې و.
د سولې د عالي شورا د دارالانشا ریـیـس معصوم ستانکزي په کابل کې خبریالانو تـه وویل؛ چې اوس د افغانستان ملي حاکمـیـت په ټوله معنی سره تامین شوی دی.
ښاغلي ستانکزي له وسله والو مـخـالـفـیـنـو وغوښتل چې نور له جگړې لاس واخلي:
"څلور موضوع گانې وې، چې مخالینـو بـه تل بهانه نیوله او ویل به یې نه شي کولای لـه افغان دولت سره په خبرو کې کومې نتیجـې ته ورسیږي. مثلاً ویل به یې د افـغـانـسـتـان حکومت واک نه لري، زندانونه یې په واک کې نه دي، وطن اشغال شوی او بهرنیان نـه وځي، دا هغه څه دي، چې دوی بـه تـل د

پاتې ۴ مخ

دوه زره څوارلسم کال ته ولې اندېښمن شو؟

عبدالله کامه وال

د نړیوالې ټولنې کړې وعدې دروغ وختې، نه یې ترهگري ختمه کړه، نه یې د سالمې ادارې د راوستو لافې او پرېږې سرته ورسولې او نه یې جنگ سالاران ورک او یا کمزوري کړه، او ددې ترځنگ د اخلاقي او اداري فساد تر شا هم د همدوی ناولې لاسونه دي

له هغه ورځې چې بهرنیو ځواکونو دځپلو وتلو لـپـاره مهال ویش اوورستی نیټه ټاکلی نو په کوردننه اوبهرنی یو لړ اندیښنې پیداکړې دسیاسي کارپوهانو اوتلویزونوبـازار ښه گرم دی او هر هغه څوک چې په روانو پولسـو کـلـو کې د سیاسي کارپوه له نامه برخمن شوې دځپلې پـوهـې او درایت له مخې وړاندوینې کوي اوخپله خبـره اونـظـر ورته دکانې کرښه ښکاري پدې سیاسي کارپوهـانـو کـې یونیم پدې ارزي چې په روانو حالاتو کې ویوښتـل شـي اونظر ترې واخیستل شي خو زیاتره یې هغه سیاسیون اوبه اصطلاح کارپوهان دي چې پرتیرو خبرو شخوند وهي او په ټول بحث کې به یې یوه نوې خبره او تحلیل وانه ورې

پاتې دویم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

اتخاذ تصـــامیم عـــاقلانه بخاطر منافع ملی ما

تصامیمی که بخاطر منافع ملی و مصالح علیای مردم ما گرفته می شود، با درایت و عقلانیت سیاسی در مشوره با افراد متدین و بزرگان که خواستار نظام عادلانه و اسلامی در وطن شان میاشند اتخاذ گردد. نباید به دیده ها خاک بپاشیم و مردم خویش را فاقد آگاهی و رسالت بدانیم و بر دوام قدرت در مسند اقتدار اصرار ورزیم و طرق را جستجو کنیم تا بتوانیم بقائی خود را در نفاق توده ها بجویم، با دشمنان صلح کنیم و با دوستان بجنگیم. تاریخ سر گذشت ملت ها ثابت نموده است که نظام های اقتدار گرا و مطلق العنان نتوانستند با استبداد و خود کامگی از طریق اعمال قدرت بالای رعیت شان حکومت آرام و مسالمت آمیز داشته باشند، مطابق سنت الهی همچو نظام ها دستخوش حوادث گردیده و بادهای صرصر زمانه آنها را واژگون و از هم دریده است. ملت ما که حوادث تلخ سه دهه جنگ را با قبول شهادت، هجرت و جهاد چشیده است و افتخارات بزرگ را در تاریخ بشریت معاصر کسب نموده اند، باید آنرا بمثابه یک ملت بزرگ، صاحب تاریخ و دیانت تلقی نمود ما که از نام دموکراسی بجز جنگ و ویرانی ارمغانی نداریم و هر روز بخاطر صلح می جنگیم و مردم ما قربانی دموکراسی می شوند.

باید عاقلانه و در پرتو هدایات الهی و در مشوره با مردم صالح و با دیانت در قبال مدیریت بحران و نجات مردم ما تصامیم مدبرانه بگیریم. نگذاریم بار دیگر کشور ما بخاطر اقتدار طلبی تشنه گان قدرت و سلطه جویی منطقه و جهان دستخوش خانه جنگی، ویرانی و غارت شود. دشمنان ما را تغذیه کنند و ما سبعانه با هم بجنگیم و آنها تماشاگر صحنه های خونین ما در میادین جنگ باشند. کشورهای ذینفع در منطقه و جهان منافع ملی کشورهایشان را در جنگ خانمانسوز و تحمیلی بالای ما بینند و این کشور فقیر و درمانده را از شاهرای ترقی و تمدن دور نگه نموده و نگذارند که ما با اسلحه مدرن هوایی و زمینی مجهز شویم، تا بتوانیم از سرحدات کشور و از تمامیت ارضی و استقلال خویش دفاع نمائیم، اقتصاد ما فلج و معادن ما منجمد و راکد و زراعت ما عقیم بماند و ما هیچ بهرهٔ از منابع سرشار طبیعی و ذخایر زیرزمینی خود نداشته باشیم، از خدمات صحی محروم و از دسترسی به انکشاف معارف عصری بدور بمانیم. تولید و قاچاق مواد مخدر در تبانی با مافیای بین المللی در این سرزمین به حدی رسیده که ما را در جمله بزرگترین کشور تولید کننده، مواد مخدر محسوب مینمایند. فساد اداری ما را همچو غدهٔ سرطانی درمان ناپذیر اذیت مینماید و کشور ما را در جمله اولین کشور فاسد جهان به شمار آورده است. علاوه براین ما در آستانه انتخابات ریاست جمهوری و خروج سربازان خارجی از افغانستان قرار داریم، که سال ۲۰۱۴ سبب نگرانی و وحشت مردم ما گردیده است. در همچو شرایط آینده نگری دقیق لازم است و تصامیم مدبرانه و عاقلانه باید گرفت. با وحدت و همدلی میتوان بر تمام مصائب روزگار فایق آمد، و بر نایره شعله های جنگ خاموشی بخشید و این آفت آسمانی را که در نتیجه اعمال شوم و کفران نعمت الهی که نصیب ما گردیده است از خود دور نمود و نسل های آینده خویش را از شر هیولای وحشتناک جنگ نجات داد و بدون ترس و هراس و توکل به خدا به آینده بیندیشیم، تا باشد تاریخ جهاد ما زنده و مردم ما سربلند باشند.

مولوی عطاء الله "لودین"

د اولادونو سالمه تربیه

د صالح اولاد پورې د مور او پلار او کورنی د راتلونکی ټول امیدونه تړلی وي که دا اولاد ښځینه وي او که نارینه که اولاد نیک عمل، صالح او تابعدار شخص وي نو یقیناً ټول هغه امیدونه چې کورنۍ ورځخه لري تحقق پیدا کوي، او دارنګه اشخاص په اجتماع او کورنۍ بوج نه وي بلکه د اجتماع او کورنۍ لپاره ښه پیغام او زیری وي.

که خدای ناخواسته اولادونه بې تربیې، بداخلاقه او نافرمانه اوسي نو یقیناً په کورنۍ او ټولنه بوج وي او د خیر او ګټې امید به ورڅخه نه وي.

دوستانو! راځی چې د خپلو ځوانانو فعلي حالت ته وګورو چې ځومره د دین او شریعت پابند دي ځومره د مور او پلار او کورنۍ احترام کوي او ځومره یې د آینده لپاره کورنۍ امیدواره ده؟

دا ولې؟ آیا د خلقت د ورځې راپدېخوا همداسې بدبخته او نامسلمانه پیدا شوی او که د کورنۍ له خوایې د طفولیت د ورځې څخه یې صحیح تربیه نه ده شوې طبعاً ځواب همدا دی چې د کورنۍ د صحیح تربیې او پالنې څخه محروم پاتې شوي چې نن دلمانځه، روژې، د مور او پلار د احترام او قدردانۍ پابند نه وي، په خپله کورنۍ او ټولنه بوج وي.

نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: (هر ماشوم د فطرت په دین (مسلمان تولد کېږي) بیا وروسته یې مور او پلار یا یهودي کړي او یایې هم نصراني او مجوسي کړي).

ددې به نور ډېر عوامل هم اوسي مثلاً د محیط تاثیر، بداخلاقه ملګری ناسم ماحول، خو د کورنۍ بې پروایي او ناسمه پالنه یې ډېر لوی باعث او عامل دی.

د لومړی معلم او صنف تربیه یې صحیح نه ده راغلی ځکه چې مور د اولاد د تربیې په هکله اول معلمه او غېږه یې لومړنی صنف دی.

د اسلام ورونو! ددې اسلامي جامعې اوسیدونکو پلرونو او میندو د خپلو زړونو د ټوټو یعنې اولادونو په هکله د خدای جل جلاله نه وویرېږئ او پدی هکله خپل مسؤولیت چې د اولاد سالمه تربیه ده اداء کړئ.

د خپل دیني امانت په هکله متوجه شي خپل مسؤولیت د خپل ځان، د خپل خالق، د خپل اهل، د خپل اولاد او د خپلې اجتماع په هکله پوره ترسره کړئ.

د خپلو اولادونو او ځوانانو سالمه تربیه وکړئ د خیر خواته یې رهبري کړئ او د شر لاس یې په سالمه تربیه لنډ کړئ د خپل دین د عزت او سرلوړی په خاطر خپل اولادونه صحیح تربیه کړئ اسلام زمونږ عزت او د نجات لاره ده زمونږ افتخار دی د نجات او افتخار دغه بیرغ لوړ وساتئ.

خپلو اولادونو ته د طفولیت نه دا تربیه ورکړئ تر څو ددنیا او آخرت سعادت یې په برخه شي او تاسې لپاره جاري صدقه او تلپاتې خیر او خزانه شي.

پدې خاطر چې اولاد مو صحیح تربیه کړی وي او تاسی ورڅخه په ژوند کې مطمئن واوسئ لاندې ځو شیان په نظر کې ونیسئ او د اولاد په تربیه کې مراعات کړئ.

۱- د مشر اولاد تربیې ته ډېره توجه وکړئ تر څو د نورو لپاره قدوه، او رهنما شي او کله ورته د کورنۍ سرپرستي هم وسپاره چې د مسؤولیت احساس وکړي.

۲- چې کله درڅخه کوم اولاد د یو شي مطالبه وکړي او ته یې په ورکړه قادر نه اوسی د صبر توصیه ورته وکړه او د صبر فایدې ورته بیان کړه.

رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: (د صبر نه بله پراخه او ښه ورکړه بله نشته).

۳- خپل اولاد د پټونی سیاست ته مه پرېږده دا معنی چې هغوی که بعضې ناجایزه کارونه ترسره کوي او له ستاسی څخه یې پټوي ډېر امراض داسې دی چې معالجه کیدای شي خو که پټ وساتل شي نتایج یې منفي دي.

۴- خپل اولاد ته د مشرانو په عزت کولو او په کشرانو د شفقت کولو توصیه وکړه، د مساکینو او د خیر د داعیانو سره د محبت توصیه ورته وکړه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر روحیې سره یې اشنا کړه.

۵- کله چې کوم اولاد ته څه شی ورکوی او هغه پرې خوشحالېږي ځانته ترې د جنت دعا وغواړه چې هغه پوه شي چې جنت، جهنم او حساب کتاب شته تر څو یې عقیده پخه او د مرګ وروسته ورته دعاګانې کوي چې صدقه جاریه وګرځي.

۶- خپل اولاد د قرآن کریم په لوستلو او مسجد ته یې په ورتګ عادت کړه او د قرآن د پانو او مصحف احترام ورته وښایه.

۷- د بل چاسره ستاسی زوی د جګړی او جنګ په وخت کې خپل زوی ته برائت مه ورکوه او هم یې په ملاتړ مه ودرېږه چې اینده کې د جنګ او جنجال څخه ځان وژغوري او په دې امید نه وي که په ناروا هم جنګونه وکړم کورنۍ او پلار مې دفاع کوي.

۸- د ډېر زینت نه ډک او مرفه ژوند سره یې مه اشنا کوه چې بیا د نورو بدحالت او قدر ورته نه معلومېږي یعنې ډېر د ناز ژوند مه ورکوه.

۹- خپل اولاد ته د هدایت او اصلاح دعا کوه ځکه چې د مور او پلار دعا د اولاد په هکله مستجابه ده. د ابراهیم علیه السلام دعا په قرآن کریم کې داسې راغلی ده: ژباړه: یا الله ما او زما اولاد د لمانځه پابند وګرځوه.

۱۰- خپل اهل اولاد سره د مرګ، قبر، قیامت او د جنت او جهنم خبری کوه ځکه اجل نېږدې دی تر څو په آخرت عقیده ولري او د ابدي ژوند لپاره نیک اعمال وکړي.

۱۱- که کله د اولاد څخه اشتباهاً کوم نامعقول عمل ترسره شي او معقول عذر وړاندې کړي گوزاره ورسره وکړه. عفوه ورته وکړه. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: د سختۍ په عوض ورسره اسانی وکړئ.

۱۲- اولاد په فزیکي شکل ډېر مه ډبوه چې سترګی یې شخېږي د وهلو څخه یې ویرول په وهلو غوره دی.

۱۳- کله چې درنه اولاد د ویری له مخې کوم ځای کې پناه واخیسته او پټ شو، مه یې تعقیبوه په همدې ویره کې یې پرېږده خصوصاً د شپې، ځکه په کور کې پاتې کېده کوڅی ته د وتلو څخه بهتر دی.

۱۴- مسافر اولاد ته د محبت او شفقت لیکونه او خبرونه ورلېږه او ددین د پابندۍ او د خدای جل جلاله د ویری توصیه ورته کوه ځکه ځومره چې اولاد لېرې وي د مور او پلار سره یې محبت زیات وي او د خبرې اطاعت کوي. چې تاسې خط ورولېږئ په ډېره خوشحالۍ منې او عمل وربانديې کوي.

۱۵- خپل بې تدبیره او ناپوه اولاد ته زیاتې پیسې مه ورکوه ځکه له ګټې څخه یې ممکن ضرر زیات وي او دا محبت او شفقت ندی، کیدای شي ستا شفقت او مهرباني دهغه ګمراهي باعث شي.

۱۶- اولادونه طبعاً خپلمنځي تفوق طلبي غواړي خصوصاً د معلم او پلار په وړاندې هغه اولاد ته ډېر ترجیح ورکوه چې ددین پابند او مطیع او د ښو اخلاقو خاوند وي چې د نورو د تشویق باعث شي.

۱۷- د خپل اولاد د نیکو کار ستاینه وکړه چې هغه د سرېتوب او تکامل احساس وکړي او مننه ورڅخه کوه چې تشویق شي.

۱۸- له خپل اولاد نه مه ناامیده کېږه چې بالاخره توصیه ورته نکوی او عبث پرېږدی امید دی چې د زیاتې توصیې په نتیجه کې ښه شي هغه ته د خیر توصیه او پالنه یې ستا مسؤولیت دی.

۱۹- د خپل اولاد ترمنځ فرق مه کوه چې یو ته امتیاز ورکړی او نور پاتې شي دا د دوی ترمنځ دښمنی او خفګان پیدا کوي او د شریعت خلاف کار دی.

۲۰- خپل اولاد ته د حلال رزق په طلب کې اوسه ځکه د حرام رزق تربیه سالمه نه وي.

پدې پورته اموراتو کې جهد کوه او نامیده کېږه مه، که ستا اراده د خیر وي الله به پکې برکت واچوي.

لکه چې الله جل جلاله فرمایي: (هغه کسان چې زمونږ په لاره کې مجاهده او کوشش کوي مونږ به یې خپلې لارې ته هدایت کړو یعنې لارښونه به ورته وکړو).

محمد خلیل

د افغانانو درې بنسټیز لومړیتوبونه

افغانستان چې د خپل تاریخ له یوې حساسې مرحلې نه تېرېږي او له یو ستر ازمیښت سره مخامخ دی له دېنه د خلاصون د ترلاسه کولو لپاره زیات زیرکتیا، مهارت او غوره منصوبه بندي ته اړتیا ده، هغه ولسونه چې متعهد، راسخ او د لوړو ارادو لرونکي وي هغوی د چلنجونو په وړاندې د موم په څېر د ویلې کېدو پرځای د مضبوط غر په څېر مقابلې ته یې وردانګي.

پر افغانانو د تاریخ په اوږدو کې د نړۍ له بل هر چانه زیات ناخوالې او کړاوونه راغلي دي خو د خپلو کلکو ارادو، اتفاق او غوره پلانونو په طفیل په ډېره مېړانه له ټولو ناخوالو او چلنجونو څخه نجات ترلاسه کړی دی نو ځکه افغانان بشپړ باور او یقین لري چې له موجوده چلنجونو څخه به هم د خپلو اسلافو په څېر ابرومندانه نجات ترلاسه کړي. له څه شک پرته د افغانستان قهرمان ولس په پرله پسې دول پر داسې پلانونو او لارو چارو غور کوي چې د افغانانو لپاره د نجات ذریعه وګرځي او إن شاء الله هغه شیبه هم رانژدې بریښي چې د افغانانو پر بریالیتوب څرګنده ګواهي ورکوي.

دې لپاره چې د افغانستان مسلمان ولس تلپاتې نیکمرغی ترلاسه کړي او راتلونکي نسل لږ تر لږه د پردیو له فزیکي او اعتقادي یرغل نه مصؤن پاتې شي، ملي یووالي، غښتلی ملي اردو، پولیس او یو داسې ملي سند ته ضرورت لري چې له مخې یې افغانان باید اقتدار ته د رسېدو لپاره د کودتا او زورکارونې پرځای د خپل ولس مستقیمو آراو ته رجوع وکړي، او دا اصل ومني چې د حکومت جوړولو اسلامي او قانوني حق یوازې او یوازې د ولس حق دی او هغه حکومت جائز او قانوني ګڼل کېږي چې ولس منتخب کړی وي.

که افغانان ملي یووالې ونه لري نو هېڅکله نشي کولې چې د افغانستان د دښمنانو په خلاف د مقاومت منظم او غښتلې صفونه جوړ او دهغوی ناولې ارادې شنډې کړي، همداراز که په اسلامي او ملي روحیه سنبال مجهز پوځ ونه لري نو کله هم په دې نشي توانیدلې چې د خپلو حریمونو دفاع او د هېواد په داخل کې دادمن امنیت تأمین کړي. ملي اردو، او ملي یووالې د افغانستان د بقا او ترقي غښتلې بنسټونه، او د ولس د مستقیمو اراو په نتیجه کې اقتدار ته رسیدل هغه اوسپنیزه کلا د افغانانو په واک کې ورکوي چې تل لپاره ورته د بهرنیو لاسوهنو څخه نجات ورکوي، نو ځکه په ځغرده ویلی شو چې کوم عناصر د افغانستان د مسلمان ولس ترمنځ سوله ییز ژوند او ملي یووالې په خلاف فعالیت کوي هغوی افغانان نه بلکې د افغانستان د خاورې او اسلامي عقیدې دښمنان دي، همداراز هغه عناصر چې د افغانستان د ملي اردو، پولیس او د افغانستان د ولس د مستقیمو اراو په نتیجه کې د انتخابي حکومت د قائمېدو مخالفت کوي هغوی پخپلو تبرونو خپلې پښې وهي او پخپل لاس دېته لاره اواروي چې هېواد یې د پردیو د یرغل نرمه نوړۍ وګرځي.

ښه به دا وي چې افغانان زمکنیو حقایقو ته متوجه شي او هغه اصول دې خپل کړي چې د بري ضمانت ورته ورکوي، اخوا دېخوا شاخونو ته د لاس اچولو پر ځای د ونې ډډ ونیسي، خپلې ټولې هلې ځلې او قابلیت دېته وقف کړي چې د افغانانو ترمنځ سوله، ملي یووالې او ملي اردو تقویه شي او ولس ته د خپلو آراو له لارې د خپلې خوښې حکومت د جوړولو قانوني حق تثبیت او همیشه لپاره د کودتاګانو ناوړه رواج پای ته ورسوي.

د بګرام په وحشتناک زندان کې د ځورونکو شپو یاد

حبیب الرحمن ابراهیمي : Ibrahimi.jornalist@gmail.com

(څلورمه برخه)

لنډه داچې دغه اته ورځو کې مې له مرګ پرته بل چورت نه واهه او ماویل دا یهودیان دی که څه هم ګناه مې نشته ولې دوی د مسلمانانو د وژنو پسې راوتې دي او مسلمانان وژني خکه خو کله ناکله به مې ددې پښتنو سیمو دقومي مشرانو وژني ذهن ته راتلې چې دوی خو هم هیڅ ګناه وې نه لرې خو هغوې هم یا دکوره وویستل شي اویاهم ناخرګند وسله وال یې مړه کړي، ماویل کیداې شي ما هم په همداسې شکل مړ کړي خو دخدای تعالی فضل او برکت و چې ژوندی ترې خوشې شوی یم ماته خو قبله او شرق اوشمال نه ښکاریده لمونځونه به مې په اشاره کول اوتیمم مې هم تمثیلي تیمم کاوه یوه ورځ مې یوه امریکایې ته وویل چې زه نه پوهیږم چې اوس څه وخت دی هغه راته وویل چې (میډل نایټ) یعنی بیا مې ترې پوښتنه وکړه چې څو بجې دي دوه بجې دي لس بجی پنځه بجې دي ده راته ویل (وې کن ناټ سې) او رانه لاړ دغه ورځ تیره شوه بله ورځ بل امریکایې راغی او جالبه دا چې خوب ته به یې نه پرېښودلو اوهر پنځو دقیقو کې به یوځل راته یوکس راتلو یا به یې واټر واټر چیغې وهلې اویا به یې جسیکا نمبر ون چیغې وهلې یا به یې صابون صابون ویل او یا به یې پوډ پوډ چیغې وهلې اویا به یې هم ډاکټر جوړ یې ډاکټر جوړ یې چیغې وهلې اومطلب یې داوو چې څوک ترې نه خوب ونه کړي په اصل کې ددوی هدف همدا وو نه دخدماتو عرضه کول.

لنډه دا چې هغې امریکایي ښځې ته چې بندیانو ته به یې ویل چې ډاکټر جوړ یې هغې ته مې وویل: (آي هو ستمتیک فرابلم ګیومي سم میډسنس) یعنې دمعدې تکلیف لرم ماته لږ دوا راکړه ! هغې به راته ویل (وې ډونټ هو میډ سنس پار ستمتیک) یعنې موږ دمعدې دوا نه لرو هغې راته ویل چې نور څه فرابلم لرې ما ورته ویل (مای لیټ هیډک ایز این ویري بډ کانډیشن ګیومي میډسنس اور پلیس برینګ بلډ پریشورتو چیک بلډ پریشور.) یعنې دسر چپ طرف مې درد کوي اوسخت سر مې درد کوی اویامې فشار تکلیف دی ستانسکوف یادفشار آله راوړه ،هغې راته ویل (جسټ امنټ) یعنې صبر وکړه ، له هغې وروسته بیا لاړه تر نن پورې مې بیا نه ده لیدلې

خو یوه بله ورځ مې بیا له یوه بل امریکایي نه پوښتنه وکړه چې دا څه وخت دی او بل مې داهم ورته وویل چې دا کوم طرف دی شرق دی که شمال اویاهم جنوب دی یا شرق ؟ ده راته ویل چې څه غواړې ما ورته ویل چې زه ویسټ غواړم یعنې غرب هغه راته وویل: (وټ ډو یو وانټ تو پاین وټ ډویو ډو ؟) یعنې ده ویل چې څه غواړې او مطلب دې څه دی اوڅه کوې منظور دڅه دي ؟ ماورته ویل ویسټ یعنې غرب غواړم ده راته ویل چې پار وټ ماورته ویل تو پاین کعبه یعنې چې کعبه پیداکړم هغه راته ویل چې وټ ایز کعبه ما ورته ویل چې ته په کعبه نه پوهیږې هغه ویل نه وټ ایز کعبه یعنې کعبه څه ده ما ورته ویل غواړم مکه پیدا کړم هغه راته وویل چې هغه څه کوې چې پیدا یې کړې ماورته ویل چې غواړم لمونځ وکړم یعنې (آی وانټ تو ډو اپرې) ده راته ویل چې وټ ایز دپرې ماورته وویل :(وې آر مسلم مسلم پیپول هو پایپ تایم پرې پار ګاډ آی وانټ تو ډو اپرې پار ګاډ.) یعنې ماورته ویل چې موږ مسلمانان یو او مسلمانان په ورځ کې پنځه ځله لمونځ کوې نو زه هم غواړم لمونځ وکړم څکه مې ډاپوښتنه ترې کوله چې ما به کله یوې خواته او کله بلې خواته لمونځ کاوه تشویشی وم که څه هم داسلام دمبارک دین کې داجایزدي چې په دغه شان حالاتو کې چې هر لوري ته دې زړه وې هغه ته لمونځ وکړه الله تعالی (ج) یې قبلوي خو له ماسره بیا هم یو تشویش وو، ما ویل که یقیني شي دا به ښه وي لنډه دا چې کله مې دا پوښتنه ورته واضحه شوه چې غواړم لمونځ وکړم نو په انګریزی کې یې لوړ آواز ښکنځل راته وکړه هغه مناسب نه ګڼم چې وې لیکم خو راته یې وویل :(ډونټ اسکه مې پولیش کویشن) یعنې احمقانه پوښتنه رانه مه کړه، نور یې دروازه راته را خلاصه کړه او په سختو لغتو یې په سینه او په خیټه او بغل کې ووهلم او ښه یې چې راباندې ځان سترې کړ بیا رانه لاړ دېرې کنځلې راته وکړی او دروازه یې په زوره راپسې محکمه کړه.

فکر مې خراب شو او له ځان سره مې وویل چې تاولې له دې ځناور نه پوښتنه وکړه که پوښتنه دې نه وای کړی نو دومره سخت وهل به دې نه و خوړلې خو د الله جل جلاله فضل وو چې زما کوم هډوکی مات شوې نه و لدېنه وړاندې به مې همیشه پوښتنې کولې او هر امریکایې به چې راغی مابه ورته ویل چې زما دوسیه څرنګه شوه او زما ګناه څه شوه هغه به راته ویل چې موږ نه پوهیږو خو په دې ځل یې چې سخت ووهلم نو داسې شولم لکه چې جرم مې معلوم شوي او نور ما فکر وکړ چې ګناه دهمدا لمونځ ده، فکر مې کاوه چې دا به ستا دمرګ ځای وي څکه دا ځای چې زه په کې پروت وم دا ډیر کم او تنګ ځای وو پښې مې نه شوای پکې غزولی او په کې دریدلی هم نه شوای نو له ځان سره مې فکر کاوه چې یره دا ستا دمرګ ځاي دی خو سخت افسوس به مې کاوه چې ای کاشکې ماخو یوځه کړي وای اویا یې دلته راوستلی وای اویل مې دا دګوانتانامو دبندیانو جامې چې سترګو ته ودردلې ویل به مې چې دا جامې زما وړ نه دی اودا دهغو زمریانو جامې دي چې دېو خو امریکایانو په ستونې یې څو ګولی ورولې وې اویا یې لږ بل شان غوندې کار کړی وي تاخو هیڅ هم نه دی کړی او هسې دا جامې یې در اغوستې؛ له ځان سره به مې دافکر کاوه چې که چیرته دې په بګرام کې له هغو خلکو سره یوځای کړي چې هغه دامریکایانو سره عملاً په جګړه کې بوخت وو او دهغوی سره جنګیدل نو هغوی ته به څه وایې خو ښه شوه چې هلته یې تر آخره ور نه وړلم.

بله ترټولو جالبه خبره دا وه چې امریکایان به هر دوه ساعته وروروسته راتلل اودوی به زما بدنې تالاشې کوله او هم به یې زما دغه ځای تالاشې کاوه اومابه ورته ویل چې ولې دومره مزاحمت کوی تاسو خو زما لاس او سترګې تړلې دي زه څه کولای شم نو دوی به دوه ته وو یوه به په لغته وهلم اوبل به په بوکس یا په څپړه وهلم لنډه داچې خو ډوله مزاحمتونه به یې کول چې هیڅ به پرې نه پوهیدلم چې هدف یې څه دي. (نور بیا)

په قطر کې د طالبانو ...

چې ریښتیا د طالبانو استازې واوسي او باید د افغانستان د سولې د عالي شورا سره چې د افغانستان استازیتوب کوي خبرې وکړي.

نوموړی د خپلو نورو شرطونو په اړه وویل چې دا به د طالبانو سیاسي نمایندګي یا سفارت ته ورته څه نه وي او طالبان به ترې د پیسو راټولولو لپاره هم کار نه اخلي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر زلمي رسول وویل؛ چې اوس باید په دې اړه د قطر له چارواکو سره چیرې چې د طالبانو لپاره دفتر جوړیږي؛ خبرې وشي او قطر حکومت هم باید زموږ دا شرایط تضمین کړي.

امریکا تعهد کرده که به ...

ساختن طیاره های بی پیلوت پرداخته اند.

مقامات ایرانی دو سال قبل گفتند طیاره های بی پیلوت آنان چهار متر طول دارد و تا یک هزار کیلومتر می تواند پرواز کند.

پاکستان هم تلاش ساختن طیاره های بی پیلوت را از چندین سال به اینسو آغاز کرده است. اما یک کارشناس امور نظامی پاکستان به نام محمد سعد می گوید: طیاره های بی پیلوت پاکستانی فاصله دور را نشانی نتوانسته و هم در هوای خراب کار کرده نمی توانند.

اسلام آباد از چندین سال به اینسو از واشنگتن تقاضا کرده است که تکنالوژی طیاره های بی پیلوت را به آنان بسپارد.

چین و روسیه هم تلاش دارند که طیاره های انکشاف یافته بی پیلوت را بسازند.

طیاره های بی پیلوت امریکایی چندین نوع دارند که به اساس گزارش ها بزرگ ترین این طیاره ها (هیرون تی پی ایتین) نام دارد.

طول بال های این طیاره ۲۶ متر است و به اندازه یک بوینگ مسافربری ۷۳۷ بزرگ است.

طیاره بی پیلوت هیرون تی پی ایتین به بلندی ۱۲ هزار متر می تواند پرواز کند و توانایی توقف در هوا تا ۲۰ ساعت را دارد.

طیاره های بی پیلوت امریکایی هرگاه در فاصله بلند پرواز کنند صدای آنان شنیده نمی شود و زمانیکه به زمین نزدیک گردند آواز شان قابل شنیدن می باشد.

تکنالوژی طیاره های بی پیلوت امریکایی هر سال انکشاف یافته تر می گردد.

در جنوری سال گذشته به اساس گزارش ها امریکا ۷ هزار طیاره بی پیلوت داشت و اما بعداً وزارت دفاع از کانگرس تقاضا کرد که در بودیجه سال ۲۰۱۲ حدود پنج ملیارد دالر را برای طیاره های بی پیلوت اختصاص دهد.

رییس جمهور افغانستان حامد کرزی گفته است ایالات متحده امریکا در پهلوی عطای طیاره های بی پیلوت برای اردوی افغانستان، وعده داده است که ۲۰ هلیکوپتر و کم از کم چهار طیاره ترانسپورتی ۱۳۰ - ۳۰ نیز به افغانستان کمک می کند.

مقامات ایالات متحده امریکا در رابطه به تعداد طیاره های بی پیلوت که به افغانستان می سپارند صحبت نکرده اند و اما گفته اند در بخش امنیت مذاکرات با مقامات افغانستان هنوز ادامه دارد.

د ولسي جرګې بحثونه ...

"په دې مسالې موږ منطقي بحث درلود خو هغه پر ما فزیکي حمله وکړه؛ خو زه د خلکو د استازي په توګه د دارنګه غیر اخلاقي حرکاتو پلوی نه یم."

نوموړي وویل، جنجال په دې رامنځ ته شو، چې ولسي جرګه لومړی پر کلنی بودجې بحث وکړي او که نه د یوولسو وزیرانو د استیضاح پر مسالې بحثونو ته دوام ورکړي.

مجیدي وویل، دی د وزیرانو د استیضاح د بحث د خنډیدو پلوی و، خو لالی حمیدزی یې مخالف و او په همدې یې شخړه شوه.

خو ښاغلي حمیدزی دا مساله عادي بولي او وایي، د نورو هیوادونو په پارلمانونو کې هم داسې پیښې کیږي: "د هرات یو وکیل صاحب، چې زموږ همصنفی هم دی، فرهاد مجددي، د برېښنا د وزیر پر طرفداری له خولې ډېرې غلطې خبرې راووتلې، چې هغه د یوه وکیل له شان سره نه ښایي او په دې وخت کې فزیکي برخورد پېښ شو، خو له نیکه مرغه چاته په کې ستونزه نه پېښه شوه."

نوموړی وویل، د رییسانو کمیټې پریکړه وکړه، چې د چهار شنبې په ورځ په کلنی بودجې بحث وکړ او د راتلونکې شنبې په ورځ د وزیرانو د استیضاح په مسالې.

د تیرې دوشنبې په ورځ حکومت له یولسو وزیرانو څخه چې ولسي جرګې د استیضاح کولو پریکړې کړې وه؛ یوازې اوه وزیران د دې جرګې استیضاحیه غونډې ته ور ولیږل.

دغه وزیران له دې امله استیضاح کیږي، چې د وکیلانو په باور تیر لمریز کال یې خپله نیمه بودجه هم نه ده لګولې.

خو حکومتي چارواکي وایي، د ولسي جرګې پریکړه اصولي نه ده، څکه څلور وزیران تیر کال په خپلو اوسنیو پوستونو نه وو.

دا وزیران د کورنیو چارو وزیر مجتبی پتنګ، د دفاع وزیر بسم الله محمدي، د لوړو زده کړو وزیر عبیدالله عبید او د ښاري پراختیا وزیر حسن عبداللهي دي.

مړه يې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

شهید څارنوال عبدالرؤف (حجت)

از آرشیف خانه جهاد افغانستان

برادر شهید څارنوال عبدالروف ((حجت)) که اسم حقیقی او ((سعادت)) است در سال ۱۳۱۸ هـ ش در یک خانواده متدین در دره زیبا و شهید پرور ((سبز)) مربوط ولسوالی سبزپارسا ولایت پروان بدنیا آمد. وی به رسم دیرین و مبارک به مسجد رفت و در کنار فراگرفتن قرائت قرآن کریم خواندن و نوشتن را آموخت و در مدت کمی بعضی کتب ابتدائی فقه را نزد علمای جید منطقه فرا گرفت، پس از آن څارنوال عبدالروف شهید جهت فراگیری علوم بیشتری به مناطق بگرام و مربوطات مرکز ولایت پروان رفت.

څارنوال عبدالروف شهید پس از تکمیل مراحل درسی متداول در پروان راهی کابل گردید و در سال ۱۳۲۴ بعد از سپری نمودن امتحان کانکور شامل مدرسه دارالعلوم عربی کابل گردید. و پس از گذشتاندن چند سال در کابل توسط پیشتازان تحریک چون شهید انجنیر غلام نبی شوریده به صفوف نهضت جوانان مسلمان پیوست سرگرمی شدید و شور و شعف زایدالوصف څارنوال شهید را در امر دعوت و مبارزه نه تنها باعث سکتگی درس و تعلیم وی نشد، بلکه او را بیشتر به فراگیری علوم اسلامی و فهم روح دین تشویق و ترغیب کرد.

شمولیت څارنوال عبدالروف شهید در پوهنحی شرعیات کابل با پیروزی کودتای ۲۶ سرطان داود توام بود وی در چنین شرایط دشوار و ناگواری با وجود همه سختی ها و مشقات در تعهد خود با خدا و وفایش با نهضت اسلامی کشور ثابت قدم باقی ماند. شهید څارنوال عبدالروف ((حجت)) در سال ۱۳۵۶ از شعبه فقه و قانون پوهنحی شرعیات فارغ گردید و بعد از اتمام دوره احتیاط در اردو بحیث څارنوال در مرکز ولایت نیمروز مقرر شد. هنوز از تقرری وی یک سال نگذشته بود که کودتای ۷ ثور بدستور مستقیم روس ها در افغانستان بوقوع پیوست.

څارنوال عبدالروف شهید عرصه را به خود تنگ دیده بالاخره در ماه میزان سال ۱۳۵۷ روانه پشاور گردید.

څارنوال حجت شهید در پشاور مدتی را در پست معاونیت اداره قضائی و مدتی را به حیث مسئول شعبه طلبه علوم دینی سپری نمود.

بعد څارنوال شهید در ماه حوت ۱۳۵۷ به حیث قوماندان گروپی از مجاهدین عازم جبهات ولایت کنر گردید و در آنجا در جنگ های شدید و خونین اشتراک نموده ضربات کوبنده به رژیم مزدور وارد آورد وی در سال ۱۳۵۸ بنا به دستور مقامات رهبری حزب اسلامی به منظور آغاز جهاد مسلحانه و تاسیس جبهه منظم به حیث قوماندان گروپ از برادران مجاهد عازم ولسوالی تگاب ولایت پروان کاپیسا گردید و پس از عملیات منظمی ولسوالی تگاب در ماه حمل ۱۳۵۸ به قومانده برادر شهید ما آزاد گردید.

څارنوال عبدالروف شهید پس از مسافرت به کشور ایران در اوایل بهار سال ۱۳۵۹ همراه با تعداد زیادی از مجاهدین عازم ولسوالی های غوربند و درهٔ سبز پارسا گردید که با ورود شهید موصوف در دره غوربند مناطق زیادی چون کندک محاربوی چهارده، ولسوالی سیاه گرد غوربند آزاد گردید و برادر موصوف دست به تاسیس مدارس و مکاتب، ادارات محلی انجمن های انقلاب اسلامی در مناطق متذکره زد.

تعرض قواء متشکل از چندین هزار عسکر گارد سرخ روسی در سال ۱۳۵۹ بنا به فرماندهی عام برادر شهید ما څارنوال عبدالروف به شکست فاحش مواجه گردید.

مجاهدین در دره غوربند بنا به قومانده څارنوال حجت شهید در جریان سالهای ۱۳۵۹ الی ۱۳۶۱ دست به عملیات موفقانه در مناطق سالنگ چهاریکار، پغمان، ولسوالی میربچه کوت و شاهراه عمومی کابل پروان زدند.

څارنوال شهید به اساس فعالیت های موفقیت آمیزش از طرف مقام امارت حزب اسلامی افغانستان در سال ۱۳۶۰ به حیث امیر جهاد ولایت پروان، کاپیسا، انتخاب گردید...

بقیه در صفحه چهارم

دوه زره څوارلسم کال ته ولې اندېښمن شو؟

عبدالله کامه وال

(د لومړي مخ پاتې برخه)

...پر زړو خبرو او تحليلونو شوخند وهي پدې ميزونو کې ډيری کارپوهان عقده مند اواحساساتي خلک دي چې همدې ته يې کارويلی له يوه تلويزونه وځي او پربل ورننه وځي ټوله ورځ يې په رسنيو کې بوخت وي ليدنی رسنی هم دخدايی فضل دی دومره زياتې شوي چې هره کوڅه کې يوه تلويزوني رسنی شته د دوی د بحث عمده موضوع اوداستدلال مهم ټکی نوي ومه لسيزه وي که څه هم دهغه وخت سياسي او ټولنيز شرايط دنن ورځې سره خورا توپير لري نن ورځ دافغانستان سياسي حالت په نړۍ کې په بيل ډول دی او هغه مهال بيل ډول، خو دوی حالات او شرايط سره نه پرتله کوي بس يواځې وخت ته ديکه ورکوي اوننی افغانستان په ننيو شرايطو کې نويمو کلو ته بيايي او په ولس کې د ويرې او ترهې فضا خپروي پدې کار کې يواځې داد ديمکراسی پيداوار سياسيون او کارپوهان نه دي ګرم بلکې د ديمکراسی دهمدې ليونی څپې پرمټ اوملاتړ جوړی شوي رسنی هم ګرمې دي .بهرحال داټولې ناخوالې دي چې زموږ ولس ورسره مخ دی خو زما دبحث اصلي موضوع د د دوه زره- څوارلس کال وروسته هغه اندېښنې دي چې دبهرنيو ځواکونوله وتو وروسته به موږ ورسره مخ کيږو اوهغه اندېښنې دادي چې د دوه زره څوارلسم کال وروسته چې بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي ايا زموږ امنيتي ځواکونه (ملي اردو اوملي پوليس) به د هيواد اوخاورې د د فاع اوساتلو توان اووړتيا ولري که نه څکه روانه جګړه خورا پيچلې اوسخته جګړه ده او دايولس کاله ورسره زموږ ولس مخ دی اوورځ ترېلې،خونړی کيږي .بله داچې نړی واله ټولنه چې په دوه زره څوارلس کال کې له افغانستانه وځي ايا زموږ پوځ اوامنيتي ارګانونه به په نوې ټيکنالوژی او مدرنو وسلو سمبال کړي چې په روانه اونامعلومه جګړه کې ترې کار واخلي اوکه نه داستونزمنه اوپراخه جګړه به د هنګري جوړ په بې خونده اوماتوګوډو ټوپکو اوپه عراق کې چليدلو زړو کهنو ټانګونو پرمخ بيايی چې ه: ا اوس له کاره غورزيدلي او د دي وړ نه دي چې په روانه جګړه کې ترې کارواخيستل شي ؟ لويه اندېښنه همداده چې که چيرې زموږ پوځ په نوو اومدرنو وسلو سمبال نه شي دمخالفينو دمقابلې توان به ونه لري څکه د

دولت مخالفين په خورا پرمختللو وسلو او تجهيزاتو سمبال اوله نوو جنګي تکتيکونوبرخمن دي چې وخت ناوخت ترې په روانه جګړه کې کار اخلي اوهر تکتيکي بريد يې له مخکيني بريد سره خورا زيات توپيرلري او همدا چريکي جنګي تخنيکونه اوتکتيکونه دي چې پرراغلو اشرګرو يې سر ګرخولی او دوتو او پاتې کيدو په شش او پنج کې يې اچولي. نه ورته په وتو ځان ښه ښکاري او نه ورته په پاتې کيدو کې بې له شرميدو بل څه ښکاري هغه مهال چې نړۍ والو پوځونو دلته راپښبه کوله نوداسې غوړې وعدې يې کړی وې چې زما په څير ډيرو افغانانوته شنه باغونه ښکاره کېدل موږ هيله مند وو چې دنړۍ والو دراتګ سره به دلته يوه سالمه اداره رامنځته شي دژوند کچه به مو ښه شي دروغتيا او زده کړې په برخه کې به دګاونډيو سيال شوخپلسري ډلې به- نورې ختمې شي يو ولسواک نظام به رامنځته شي اوزموږ پرولس به دادغم اوظلم تورې شپې نورې سباشي .خو دوخت په تېرېدو دا ټولې وعدې دروغ وختې نه يې ترهګر ختمه کړه نه يې دسالمې ادارې دراوستو لافې او پرړې سرته ورسولې اونه جنګسالاران ورک کړل بلکې جګړه دهر کال په تيريدو لازياته اوپراخه شوه په تيرو کلو کې جګړه يواځې دغرو ترځنډو محدوده وه خو اوس يې لمن تر لويو ښارو راورسيده او ان ترديې چې پلازمينه کابل هم خوندي نه دي او کله ناکله خو د کابل له زړه نه هم د تورو لوګو لوخړې پورته شي لنډه داچې هيڅ ځای په امن کې نه دی . د ادارې فساد اودرغلی کيسې خو يې په نړۍ واله کچه ځانګړی مقام لري .په افغان دولت کې اداري فساد اوس د نړۍ والې مډيا دسرټپه ده . او دا د ښې او سالمې حکومت دارۍ دعوه داران يې اوري او ګوري خو پرووړاندې يې هيڅ ډول عکس العمل نه ښايی خو چې کله ترې پدې هکله پوښتنه وشي نو د دوی ځواب داوي چې دادافغان دولت کورنی خبره ده موږ پداسې مسايلو کې مداخله نه کوو . خو افغان دولت بيا په وار،وار دروان فساد اوبدبختی پړه پرهمدې نړۍ والو وراچولې او وايی چې په اداري فساد اولوټ تالان کې بهرنيان ترافغان دولته زيات دخيل او لوی لاس لري. سترې پروژې د دوی په خوښه او لاسوهنه هغه چاته ورکول کيږي چې دوی سره اړيکي ولري اوددوی ته يې

خيرسيږي .نو پداسې يوحالت کې چې نړی واله ټولنه نه دامن په راوستو کې کاميابه ده نه يې دښه حکومتداری وعده ترسره کړه نه يې هغه ډلې له منځه يوړې چې دښه حکومتداری اوسالمې ادارې دراوستو پرووړاندې خنډ دي. نو پدا سې حال چې نړی وال هم په فسادکې ښکيل وي او شته نظام هم، نو بيا دوه زره اوڅوارلس ته ولې اندېښمن شو؟ هغه ويره چې کيدايشي جګړه پيل شي عملا روانه ده اوهيڅ څوک هم ځان مسؤن نه ګڼي هغه که په هره کچه او هرمقام کې دی .دنظام مخالفين ورځ ترېلې پياوړي کيږي ښه حکومتداری خو هسې هم سرخوړلی. نو بيا خو ښه داده چې دا راغلي خپلې پښې سپکې کړي څکه لږترلږه د دې پيغوره خوبه خلاص يو چې په يو اشغال شوي هيواد کې شپې سباکوی او د وسلوالو مخالفينو داغوښتنه او بهانه به هم پوره شي چې ترکومې بهرني ځواکونه شتون ولري وسلوالې مبارزې ته به دوام ورکړو. څکه د دوی په شتون کې خو نه ترهګري لمنځه ولاړه نه ښه حکومت داري رامنځته شوه اونه مو سر اومال خوندي دی نه د ګاونډيانو له بربنډو مداخلو او بريدونو په امن کې يو.

نو چې داهر څه شته بيا د دوی موجوديت او غر و پر څه مانا لري داسې خو هم نه ده چې دامريکا په راتګ دا ملک ګل وګلزار شوې او په تګ سره به يې داهرڅه له لا سه ورکړو. بلکې دوی له ځان سره راوړي چې موږ به يې ترډيره وخته تاوان وګالو اوترډيره وخته به ورسره لاس اوګريوان يو دا دبد اخلاقي اواداري فساد وايرسونه دی ملک ته چاراوړل اودخپل شتمن او غني فرهنګ سره ولې دمخه ښې په حال کې يو؟ دا اوس چې په دولت کې اداري اواخلاقي فساد غوړيمې کوي ترشا يې کوم لاسونه دي اوڅه اهداف لري ايا داهرڅه دهمدوی دراتګ محصول نه دی؟! دګاونډيانو د فرهنګي اوکلتوري يرغل لپاره خوبه دابې بندوباره تلويزونونه بس وي چې دپردي کلتوري اواخلاق فساد دخپرولو سترمرکزونه يې ګڼلی شو او که څوک ځان ته افغان اومسلمان وايی نو دترکي اوهندي ډرامو په ليدو به ضرور دخپلو اولادونو په وړاندې د اخلاقي مسؤليت احساس و کړي.د يو قسم خوړلې ګاونډي له لورې دميزايلو بريدونه او دبل خدای ناترسه ګاونډي له لورې دبيچاره اومظلومو افغانانو اعدامول هغه څه دي چې دې راغلو اشرګرو په موجوديت کې کيږي خو دې دانسانيت دعوه دارو پرې کله غوږ هم ونه ګرولی. نو چې نه مې دګاونډيانو له بريدونه ساتلی شي اونه مې د دې جوګه کوي چې پخپله يې ځواب ووايم نو بيا دوی دکوم مرض دارو دي اودکومې ورځې لپاره پکاريږي.نو زما په اند ښه به داوي چې ژر تر ژره زموږ دا پاکه خاوره پريږدي او په خپله مخه ولاړ شي چې موږ هم پرخپل سبا بيګا پوه شو اوددوی بادارانو ته په طمعه نه شو.

شهيد څارنوال عبدالرؤوف ...

...نامبرده به خاطر بهبود و تنظيم هر چه بهتر جهاد در ولايت پروان بنا به مشوره قوماندانان منطقه ولايت پروان کاپيسا را به پنج حوزه بزرگ چون حوزه الصبح، الفتح، النصر، نعمان و شفق تقسيم بندی نمود.

ثبات و قاطعيت و توکل از جمله صفات برازندهٔ څارنوال عبدالرؤوف شهيد بود موصوف در سخت ترين شرايط با سختي ها مقاومت نمود و ثبات خود را از دست نداد.

څارنوال عبدالرؤوف شهيد در انتخابات سال ۱۳۶۶ حزب اسلامی افغانستان بحيث عضو شورای مرکزی حزب انتخاب گرديد که بنا بر مشغوليت های جهادی نتوانست در جلسات شورای مرکزی اشتراک نمايد سرانجام بعد از يک عمر جهاد و مبارزه در راه برتری نام خدا جل جلاله و اقامه حکومت اسلامی در ميهن عزيز ما اين فرزند قهرمان اسلام سپه سالار دلير ميدان نبرد و جهاد و راد مرد نخبه سخن و قلم در صبحگاهان روز شنبه تاريخ ۱۱ميزان سال ۱۳۶۶ هـ ش در قريه فرنجل ولسوالي غوربند طی يک توطيه خائنانه از طرف گماشتگان سازمان کا، جی، بی و خاد بدستياری و همکاری سر دسته گروه نامسلمان باطنی کيان به مقام رفيع شهادت نايل گرديد. (انا لله و انا اليه راجعون)

نيروهای امريکايی به حمايت ...

رييس جمهور افغانستان در کنفرانس مشترک خبری در قصر سفيد گفت: نيرو های امنيتی افغان قبل از فرارسيدن بهار به طور کامل مسووليت تامين امنيت کشور رابدوش خواهند گرفت و نيرو های امريکايی بيشتر از اين در روستا های افغانستان حضور نخواهند داشت.

سفير افغانستان در واشنگتن اکليل حکيمی در سخنرانی خود به خبرنگاران در واشنگتن در ادامه ملاقات حامد کرزی واضح ساخت که نيرو های امريکايی هنوز هم حضور خواهند داشت اما نقش حمايوی را پيش خواهند برد.

وی گفت: ما هنوز نيازمند کمک های لوژيستيکی و پشتيبانی های ديگر نيرو های ايتلاف هستيم.

به گفته وی در حال حاضر عمليات مشترک با افغان ها به پيش می رود و افغان ها با پشتيبانی که از جانب امريکا دريافت می کنند، می توانند در رهبری قرار گيرند.

آقای حکيمی گفت: هر دو حکومت و رهبران نظامی روی شمار دقيق عساکر امريکايی که بعد از سال ۲۰۱۴ در افغانستان باقی خواهند ماند کار می کنند.

در پايان سال ۲۰۱۴ به تعداد ۶۶ هزار عسکر امريکايی افغانستان را ترک خواهند کرد.

ادارهء بارک اوباما پيشنهاد کرده است که نيرو های امريکايی به سطح پايين به حد چند هزار تن در افغانستان باقی بمانند و اين گزينه را که هيچ نيروی امريکايی در افغانستان باقی نماند، نيز باز گذاشته است.

به هر حال، کارشناسان اين چنين اظهارات را بخشی از ستراتيژی مذاکره می بينند.

ايالات متحده امريکا بر حکومت افغانستان فشار وارد می کند که تمام نيرو های باقيمانده اش در افغاستان را از تعقيب در محاکم محلی مصوونيت دهد، پيشنهاديکه برای حفظ نيرو های امريکايی در عراق مطرح شده بود.

وسله والو مخالفينو ته نور ...

جګړې د دوام لپاره د بهانې په توګه کارول. خو زه فکر کوم، اوس داسې شرايط راغلي چې هغوی له هيڅ کومې بهانې نه په افغانستان کې د وينې توييدنې د ادامې لپاره ترينه استفاده نشي کولای."

په عين وخت کې ښاغلي ستانکزي تمه وښودله؛ چې په روان ميلادي کال کې به د سولې په برخه کې په افغانستان کې پرمختګونه وشي.

تردې يوه ورځ مخکې جمهور رييس حامد کرزي وويل؛ چې امريکايي چارواکو موافقه کړې، چې په افغانستان کې هيڅ زندان نه لري او په راتلونکي پسرلي کې به دله کليو او

باندو څخه په خپلو قرارګاوو کې مشت کيږي. خو د سياسي چارو څيني کارپوهان وايي، هغه تعريف چې دولت يې له ملي حاکميت څخه لري، ښايي وسله والو طالبانو او حزب اسلامي ته د منلو نه وي.

د سياسي چارو کارپوه وحيد مژده وايي، چې وسله وال مخالفين په افغانستان کې که د اوږدې مودې لپاره د امريکايي ځواکونو د پاتې کيدو پر خلاف دي په داسې حال کې افغان دولت يې غوښتونکی دی؛

د افغانستان دولت له امريکا سره په قطر کې طالبانو ته د دفتر د پرانستل له پرانستل کيدو سره موافقه کړې.

طالبان سره له دې چې له افغان دولت سره له خبرو انکار کوي، خو په دې وروستيو کې يې په پاريس کې په يوه داسې غونډه کې برخه واخيستله چې د پخوانی شمالي ټلوالې څيني مهم کسان د بيلابيلو نورو لوريو استازيو پکې ګډون کړی و.

په دې غونډه کې د طالبانو له خوا د بهرنيو ځواکونو د وتلو په شرط د يوه نوي اساسي قانون له مخې د يوه حکومت د رامنځ ته کيدو ملاتړ وکړ؛ چې څينو لوريو د هغوی په دريځ کې د لوی بدلون په سترګه ورته وکتل.

وزيرماليه: هنوزهم ...

افغانی به امريکا، بحثها روی کمک در عرصه های مختلف به افغانستان، جدی بود و نتايج مثبت در پی داشت.

وی افزود که دربخش اقتصادی، موقف دولت اين بودکه کمکهايی که به افغانستان می آيد، نتايج آن قابل قناعت نيست ودليل آن اين است که براساس اولويتهای دولت ومردم به مصرف نميرسد، باعث تقويه نهادهای دولتی وغيردولتی نميگردد و بسيار گزاف نيز تمام ميشود.

موصوف علاوه کرد، پولهايی که از جامعه جهانی به افغانستان می آيد، تنها درقسمت مشاوريتهای قيمتی به مصرف ميرسد و سی الی چهل درصد آن، اگردرافغانستان به مصرف برسد، متباقی دوباره از افغانستان خارج ميشود.

زاخيلوال گفت: موقف دولت اين است که بيشترين پولهای جامعهٔ جهانی بايد از طريق بودجه دولت برای اولويتهای افغانستان به مصرف برسد، که با اين کار نهادهای ملی تقويت ميشوند و هزينهٔ پروژه های انکشافی نيز کاهش می يابد.

وزير ماليه افزود: "ما درگفتگو با مقامات امريکايی از عدم موثريت کمکها و عملی نشدن تعهدات قبلی شان، مثالهای واضح ارائه کرديم و گفتيم که بايد به تعهدات شان جامهٔ عمل بپوشانند."

وی علاوه نمود: در گفتگوهايی که بامقامات امريکايی صورت گرفت، روی به مصرف رسيدن ۵۰ درصد کمکهای امريکا از طريق بودجه دولت افغانستان وانتقال ۸۲۵ ميليون دالراز کمکهای امريکا به بودجه دولت، توافق صورت گرفته است.

وزير ماليه درپاسخ به سوالی مبنی براينکه چه تضمينی وجود دارد که اين بار، امريکا تعهداتش را که با هيئت افغانستان نموده عملی کند، گفت: "ماهميشه بايدبرعملی شدن اين تعهدات شک داشته باشيم؛ به همين دليل بخاطرامتحان، ۸۲۵ ميليون دالری را که امريکا تعهد کرده، بايد آنرا تا دوماه به افغانستان بپردازد که به تعهدات آنها باور کنيم."

زاخيلوال تصريح کرد: تقاضای ديگر اين بودکه کمکهای امريکا در اولويتهای افغانستان بخصوص زيربناها که ميتواند اقتصاد کشوررا به پای خود ايستاد کند، به مصرف برسد ودولت اختيارداشته باشد که پروژه ها را شناسايی وانتخاب نمايد.

وی افزود که روی هزينهٔ کارانکشافی در افغانستان نيز بحث شد؛ خصوصاً قراردادهای بين المللی که درافغانستان می آيد، بسياربه قيمت گزاف و تاثيرات کم تمام می شود.

شهادت اونيزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکي اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤل مدير عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير عبدالخليل "خليل"

د اړيکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤل مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• راليږل شوي مطالب نه سترديږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ډيزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مينه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com